د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د مقام د دفتر لوی ریاست

د نشراتو او عامه اړیکو ریاست

# عرفان

ښوونیزه، ادبي، څېړنیزه او ټولنیزه مجله

سال یکصد و چهارم، شماره مسلسل ۶۱۲، ماه ربیع الاول ۱۴۴۶ هـ ق مطابق ماه سنبله ۱۴۰۳ هـ ش



## په دې ګڼه کې:

- ✓ هویت ملی
- ✓ لوړ همت او هیله من تیا
- ✓ یادگیری فعال

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Education
General Directorate of the Head Office
Directorate of Publication and Information

# Erfan

**Educational, Cultural, Research & Social Magazine**



## مطالعه د پوهې د کچې د لوړولو یوازینۍ وسیله ده.


بسم الله الرحمن الرحيم

**کتنپلاوی:** الحاج مولوي شهاب الدين "ثاقب"
مولوي عزيز احمد "ريان"
قاري منصور أحمد"حمزه"
احمد شعيب "حقيقي"
عبدالصبور "غفراني"
محمد ابراهيم "ملهم"
معراج "زماني"
محمد اكرم "وفادار"
محمد نسيم "عياذ"

**مسئول مدير:** ماسترجاويد «بهرام خېل»
**مهتمم:** عبدالواسع "سعادت"
**انځورګر:** محمد ادريس "نوري"
محمد اشرف «رسولی»
**ډيزاينر:** محمد قسيم "يعقوبي"
**د اړيکي شمېره:** ۰۰۹۳۷۲۹۸۱۹۰۳۳
**تيراژ:** ۱۵۰۰ جلد

برېښناليک: Erfan.magazine1400@gmail.com

| د دې ګڼې مطالب | لیکوال | مخ |
| --- | --- | --- |
| سرمقاله | مسئول مدیر | ۱ |
| د زده کړې په مرکزونو کې... | مؤلف شهید الله «عزیزي» | ۳ |
| چگونه می توان خلاقیت را... | معاون سرمؤلف حبیب الله «ولیزاده» | ۱۱ |
| د ښوونکي لارښود کتاب | سرمؤلف محمد عزیز «حسین خېل » | ۱۸ |
| نگاهی به وضعیت علوم ... | سرمحقق خادم احمد «حقیقی» | ۲۲ |
| پښتو ادب او ختیځ پوهان | حمایت الله «ښاد» | ۲۸ |
| هویت ملی | پوهنیار صلاح الدین «قریشی» | ۳۲ |
| د خاطر اپریدي د کلیاتو ... | جاوید «آفتاب» | ۳۷ |
| نقش تعلیم و تربیه در رشد ... | پوهیالی محمد قیس «عصمتی» | ۴۱ |
| لوړ همت او هیله من تیا | مفتي وقایت الله «وقار» | ۴۷ |
| یادگیری فعال | سمیع الله «یعقوبی» | ۵۰ |
| د امت په حق کې ... | محمد نعیم «پرهیز » | ۵۲ |

**د عرفان مجله د مطالبو په ابډیټ کې خپلواکه ده، راغلې لیکنې له عرفان سره پاتې کېږي.**
**دعرفان مجله د لیکوال د لیکنې ننګه نه کوي، هر لیکوال ته ښایي چې د خپلې لیکنې ننګه په خپله وکړي.**

**د پوهنې وزارت**
**ښوونیزه، ادبي، څېړنیزه او ټولنیزه مجله**

د تأسیس کال: ۱۳۰۱ هـ ل




# د پوهنیز نظام د بریالیتوب راز د زده کوونکو د میندو او پلرونو په مرسته کې نغښتی دی

مکتب لکه څنګه چې له نوم څخه یې څرګندیږي، د ماشومانو او ځوانانو د شخصیت د ودې، پرمختګ، سمون او روزنې ځای ته ویل کیږي، دا چې انسان د چاپیریال زېږنده ده؛ نو په زغرده ویلای شو چې مکتب او مدرسه د انسان د شخصیت په وده او پرمختګ کې ټاکونکی رول لري. د زده کوونکو د روح، روان او شخصیت ودې ته پاملرنه د دې سبب ګرځېدلې چې یاده مسئله د پوهنیز نظام په لومړیتوبونو کې وګڼل شي.

د تربیتي اروا پوهنې پوهان په دې اند دي، چې د زده کوونکو، روح، روان او شخصیت چې د هغه د ټولو ځانګړنو استازیتوب کوي هغه وخت ښه او سالمه وده موندلی شي، چې مدرسه او مکتب له نورو ټولنیزو بنسټونو په ځانګړې توګه کورنۍ سره پوره او بشپړه همغږي ولري.

کورنۍ هغه لومړنۍ ښوونیز بنسټ دی چې ماشوم پکې ژوند کوي، ماشوم خپلې لومړنۍ زده کړې له همدې ځایه پیلوي؛ نو له دې امله کورنۍ مینه او محبت د انسان د نیکمرغۍ او خوښۍ سبب ګرځي او د ماشوم د ژوندانه ډېرې ستونزې له همدې لارې اواریږي. کورنۍ مینه او محبت کولای شي د ماشومانو زړه نازړه توب او کمزوري اراده پیاوړې کړي او هغوی د یو نېکمرغه او هوسا ژوند لپاره هیله من کړي؛ نو د خپلو ماشومانو د سالمې ښوونې او روزنې او دا چې هغوی د پیاوړي ایمان او ارادې خاوندان شي د هغوی لپاره کورنۍ چاپیریال باید له هر ډول لانجو او اختلافاتو پاک اوصاف وي.

صداقت، رښتینولي، مینه، محبت او یووالی کولای شي چې د ژوندانه ډېرې ستونزې اوارې کړي. د زده کوونکو کره وړه او نورې ټولې ځانګړتیاوې د هغوی د کورنۍ چاپیریال او د هغوی د میندو، پلرونو او د کورنۍ د غړو د علم، پوهې او شخصیت زېږنده او انګازه ده، د میندو او

پلرونو تر منځ ناوړه چلند، د کورنۍ د غړو تر منځ نه همغږي، اختلاف، تفاوتونه د ماشومانو په ښوونه او پالنه کې افراط او تفریط د ماشومانو او اولادونو بې ځایه ملاتړ او دغه شان د کورنۍ د غړو ناسم عاطفي چال چلند هغه مسایل دي، چې د ماشومانو په بریالیتوب او ناکامۍ کې اغېزمن رول لري؛ نو له دې امله د کورنۍ چاپېریال او دکورنۍ د غړو تر منځ نیکو مناسباتو ته پاملرنه د ماشومانو او په ټوله کې د ټولنې په سلامتیا او برخلیک کې ټاکونکی رول او ارزښت لري.

د سرته رسېدلو څېړنو پایلې څرګندوي چې په تعلیم او تحصیل کې پرمختګ، ما ته او ناکامي، د تعلیم او تحصیل پر ښودل زیات عوامل لري لکه د کورنۍ چاپېریال، ډله ییزې غیر اخلاقي رسنۍ، بدهمزولي او اندېوالان، د زده کوونکو ناسم رواني چاپېریال، بدیې انګېرنې، او د ښوونکو او ښوونځي نا مناسبې هیلې او غوښتنې، دا ټول هغه څه دي چې کولای شي د ماشومانو او ځوانانو په بریالیتوب کې اغېزمن ثابت نه شي، یا هغه د منکراتو سیلاو ته ورټیل وهي.

له پورتنیو یادونو څخه دې پایلې ته رسېږو چې کورنۍ د ماشومانو په وده او پرمختګ کې ټاکوونکی رول لري او د زده کړو او مهارتونو د انتقال اصلي سرچینه پېژندل شوې ده، اړینه ده چې د روغو، سالمو او غوره اولادونو د درلودلو لپاره کورنۍ ژوند او کورنۍ ته چې د ټولنیز ژوند کوچنۍ واحد ګڼل کیږي، زیاته پاملرنه وشي. میندې او پلرونه چې د کورنۍ او په ټوله کې د ټولنې د سیاسي، ټولنیز، فرهنګي او اقتصادي بهیر مرکزي لوبغاړي دي باید د یوې سالمې ټولنې د رامنځته کولو لپاره چې په هغه کې آرامتیا او انساني ژوندانه ټول تهذیب شتون ولري، د خپلو اولادونو په سالمه ښوونه او روزنه کې د ننني وخت او علومو د غوښتنو سره سم هڅه وکړي او د نوموړي بهیر د بریالیتوب لپاره خپلې هڅې له ښوونځي، ښوونکو او د ښوونځي له مدیرانو سره همغږې کړي؛ څو ښوونکي په دې وتوانیږي چې د ښوونې او روزنې په ډګر کې اغېزمن ګامونه پورته او په ډاډه زړه عمل وکړي. که کورنۍ د خپلو اولادونو په ښوونه او روزنه کې سست او بې تفاوته کړنه تر سره کړي؛ نو د دې هیله او توقع دې نلري چې کرونده به یې ښه حاصل ورکړي.

په پایله کې باید په ډاګه وویل شي، چې یوازې ښوونکي د درنو میندو او پلرونو له بشپړې همکارۍ پرته نشي کولای خپلو پوهنیزو موخو ته چې هغه د هیواد د اولادونو سالمه ښوونه او روزنه او د یوې با تهذیبه، نیکمرغه، هوسا او بسیا ټولنې جوړول دي، ورسیږي. کورنۍ او والدین باید په دې پوه وي چې په ښوونځي کې د اولادنو د بریالیتوب راز د میندو او پلرونو په همکارۍ او مرستو کې نغښتی دی.

مؤلف شهیدالله عزیزي

# د زده کړې په مرکزونو کې
# د درسي او غیر درسي کتابونو ارزښت

**لنډیز**

د کتابونو تألیف، تولید او له هغو څخه ګټه اخیستنه، د نړۍ په بیلابیلو هېوادونو کې په متمرکز او غیرمتمرکز دول سرته رسېږي، زموږ په هیواد کې له درسي کتابونو څخه په تدریس کې ګټه اخیستل په متمرکزه بڼه ترسره کېږي. مطلب دا چې د درسي کتاب یومتن په ټول هېواد کې یو شان تدریس او لوستل کېږي، خو د انګلستان، استرالیا، نیوزلنډ، امریکا او سویډن په څېر هېوادونو کې له کتابونو څخه ګټه اخیستنه په غیر متمرکزه بڼه ده؛ په داسې طریقه چې هلته یو ملي درسي نصاب اعلانېږي چې موخې یې روښانه او معلومې وي، ښوونکي کوښښ کوي چې د نوموړي ملي درسي نصاب موخو ته سره نږدې شي او اړتیا نلري چې له یوه ځانګړي درسي کتاب څخه نوموړو موخو ته د رسېدو لپاره له هغه څخه ګټه واخلي، بلکه ښوونکي له ډېرو شته وو منابعو څخه چې غواړي تدریس یې کړي ټاکي او زده کوونکو ته یې په واک کې ورکوي.
غیر درسي کتابونه چې له اسلامي اصولو او فرهنګي ارزښتونو سره برابر وي د زده کوونکو د زده کړې لپاره اسانوونکي توکي دي، نوموړي کتابونه زده کوونکي لا زیاتو ښوونیزو فعالیتونو او څېړنو ته بیايي او د زده کوونکو عقلي، استدلالي او ټولنیز لید لوري پیاوړې کوي.
دغه مقاله د درسي او غیر درسي کتابونو له تعریفونو څخه وروسته، د درسي او غیر درسي کتابونو د رول په هکله چې کومې څېړنې او متون پکې شتون لري ورته یوه لنډه کتنه کوي.

**سریزه**

د کتابونو لیکل (تآلیف)، تولید او له هغو څخه ګټه اخیستنه د نړۍ په ګڼو هیوادونو کې په دوو طریقو چې یوه یې متمرکزه او بله یې هم غیرمتمرکزه بڼه ده سرته رسېږي، په افغانستان کې له درسي کتابونو څخه ګټه اخیستنه په متمرکزه بڼه ده؛ یعنې ټول درسي کتابونه له یوې مرجع څخه خپرېږي او همدارنګه یو درسي متن د هېواد په ټولو تعلیمي مرکزونو کې تدریسېږي، خو د انګلستان، استرالیا، نیوزلنډ، امریکا او سویډن په هېوادونو کې له درسي کتابونو څخه ګټه اخیستنه په غیر متمرکزه بڼه په داسې طریقه چې یو ملي درسي نصاب اعلانېږي چې موخې یې روښانه وي، نو هر ښوونکی کوښښ کوي چې د نوموړي ملي درسي نصاب موخو ته ور نږدې شي او اړتیا نلري چې له یو مشخص درسي کتاب څخه نوموړو موخو ته د رسېدو لپاره ګټه واخلي، بلکې ښوونکي له ډېرو شته وو منابعو څخه چې غواړي تدریس یې کړي ټاکي او زده کوونکو ته یې په واک کې ورکوي. په بل عبارت ښوونکی حق لري

چې هر ډول درسي محتوا يا متن خوښ او تدريس يې کړي. ( آهنګرى ۱۳۸۳)

له يوه درسي کتاب څخه ګټه اخيستل د درسي متمرکز نظام يوه ځانګړتيا ده، خو په يوه درسي کتاب باندې د ښوونکي او زده کوونکو تکيه کول، د هغوى د معلوماتو او علمي کچې لمن محدودوي، نو له درسي کتابونو څخه پرته نوره مطالعه چې له اسلامي اصولو او فرهنګي ارزښتونو سره برابره وي او په درسي ټولګي کې د زده کوونکو د زده شويو مطالبو د تعمق لامل ګرځي. درسي کتاب که هر څومره جامع او بشپړ شي، بيا هم نه شي کولاى چې د زده کوونکو علمي ارتياوې او غوښتنې پوره کړي، نو په ښکاره ډول دا ويلى شو هغه غير درسي کتابونه چې له اسلامي اصولو او فرهنګي ارزښتونو سره برابر وي زده کوونکي لا زياتو فعاليتونو، علمي څېړنو ته هڅوي او د درسي کتاب په اړه هغوى ته زيات نور علمي مطالب ور زده کوي، همدارنګه د هغوى د فکري، ذهني، استدلالي او ټولنيز ليدلوري قوه پياوړې کوي او د مسئلو د حل لپاره ډول ډول لارې چارې راوباسي.

غيردرسي کتابونه کولاى شي چې د زده کړې په بهير کې آسانتيا رامنځ ته کړي، په دې اړه يوه څېړنه ښيي چې د درسي مطالبو په اړه د غيردرسي کتابونو رول د پوهې د لېږد، د شته پوهې د کره والي او د علمي انګېزې د پيداکېدو په معنا دى. يا په بل عبارت: نن ورځ هيڅ يو ښوونيز پروګرام نه بشپړېږي، تر هغې پورې چې د زده کوونکو لپاره له غير درسي کتابونو څخه په منظمه توګه ګټه پورته نشي.

تر څو زده کوونکي وکولى شي د ښوونکي په مرسته له کتابتون او له هغو منابعو څخه ګټه واخلي چې د هغوى د پوهې په بهير کې فعال او مهم رول لري، د دې ليکنې پر بنسټ د ښوونځي کتابتون د زده کړې د پروګرام په ملاتړ کې مهم او اغېزمن رول لوبولى شي.

د ښوونځي کتابتون د زده کړې له لابراتوار سره ورته والى لري چې، په هغه کې زده کوونکو ته د فکرکولو اسباب او وسايل په واک کې ورکوي، ترڅو زده کوونکي په خپله د کشف او پلټنې جوګه شي. (داورپناه، ۱۳۷۵)

په حقيقت کې د ښوونځي د کتابتون د مفيدو کتابونو په مرسته کولاى شو په زده کوونکو کې د مطالعې او لوستلو عادت پيدا کړو، تر څو کتابتون د زده کوونکو د تعليمي غوښتنو ځواب ويونکى او د هغوى د فردي هڅو لامل وګرځي.

## تعريفونه

**درسي کتابونه:** هغه کتابونه دي چې د ځانګړو درسي پروګرامونو پر بنسټ ځانګړې موخې ولري او د ښوونې او روزنې وزارت د باصلاحيته مرجع څخه چمتو او تصويب شوي وي او په درسي ټولګيو کې ورڅخه ګټه اخيستل کيږي.

غير درسي کتابونه هغه کتابونه دي چې د زده کړې لپاره د انګېزې د زمينې برابرولو، مطالعې، پوره زده کړې، د علمي پوهې او سواد لوړوالي، د ذهني او عملي مهارتونو روزنې، د ټولينزو پراختيايي اړيکو او د ځانګړو موخو او پروګرامونو پر بنسټ د زده کوونکو د پوهې د لوړوالي لپاره جوړېږي او د کومې تحصيلي دورې په واحد نصاب پورې تړاو نه لري.

## د څېړنې مخینه

نن ورځ د نړۍ په ډېرى درسي او ښوونیزو نظامونو کې درسي کتابونه د ځانګړې منزلت لرونکي دي، خو بیا هم د زده کوونکو د علمي کچې د لوړوالي او د هغوی د لا زیاتې پوهې لپاره اړینه ده چې هغوی د زده کړې پر مهال له غیردرسي منل شویو کتابونو څخه هم ګټه واخلي. هغه څېړنې چې تر اوس مهاله پورې د موضوع په اړه سرته رسېدلې، ځینو ته یې یوه لنډه کتنه کېږي.

## له هېواد څخه بهر د ځینو څېړنو مخینه

## د زده کړې په نظام کې د درسي او غیر درسي کتابونو رول

د ښوونې او روزنې په نظام کې د درسي او غیردرسي کتابونو د رول په هکله ډېرې څېړنې شوې دي چې د بېلګې په توګه یې ځینو ته په لاندې ډول کتنه کوو:

**باریلوکس**

(Barrileaux,۱۹٦٥ in Lanc , Rodney,Hamiltlon-Pennel, ۲۰۰۰)

په خپلې یوې څېړنې کې چې د لیسې دورې هغو زده کوونکو چې یوازې یې له درسي کتابونو څخه ګټه اخیستله له هغو زده کوونکو سره پرتله کړي وو، چې د درسي کتابونو تر څنګ یې له کتابتون څخه د اړوندې موضوع په هکله هم ګټه اخیستله، د دې دواړو ډلو څخه هغو کسانو چې له کتابتون څخه یې هم ګټه اخیستله، نسبت هغه چا ته چې یوازې له درسي کتابونو څخه یې ګټه اخیستې وه د آزموینې په نومرو کې روښانه او ښه ښودل شوي دي.

ځینو څېړونکو په بل ډول، د ښوونکو له خوا د ښوونیزو موادو او سرچینو د کارولو کچه او د زده کوونکو لپاره د تعلیمي برنامې سره سم د دې سرچینو کارولو ورټیا څېړلې. د دې څېړنې پایلو وښودله چې دواړه هغه ښوونکي چې په دې کورس کې یې برخه اخیستې وه او هغه ښوونکي چې په دې کورس کې یې ګډون نه دی کړی، پورتنۍ سرچینې کاروي. په هر صورت، نو ښوونکو ته دا سپارښتنه کېږي چې ښوونکي د زده کړې د وسایلو کارولو او د معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره د مهارتونو کورس دایر کړي، همدارنګه د پایلو په یوه بله برخه کې څرګنده شوه چې د ښوونیزو موادو او منابعو څخه په استفادې، په زده کوونکو کې مثبته علاقه او لیدلوری رامنځ ته شوی، چې له امله یې زده کوونکي په لا زیاتو ښوونیزو فعالیتونو کې برخه واخلي.

که څه هم ډېرو څېړنو د یوه درسي کتاب پر ځای د غیر درسي کتابونو د کارولو سپارښتنه کړې، خو کتاب یا کتابونه باید تل د زده کوونکو لپاره د یوې بنسټیزې سرچینې په توګه وټاکل شي، ترڅو په لوستلو سره یې د نورو مناسبو کتابونو د کارولو اړتیا د زده کوونکو او ښوونکو لپاره یو اساس وګرځي.

لاکهود او د هغه همکارانو (Lock hood et al، ۱۹۸٦)په یوه څېړنه کې د تایلېنډ هېواد زده کوونکو په اکاډمیک پرمختګ باندې د ریاضیاتو د درسي کتابونو اغېزې وڅېړلې. د څېړنې پایلو وښودله چې په دې هېواد کې ښوونکي د ریاضي په ټولګیو کې د تدریس لپاره له غیر درسي کتابونو څخه زیاته ګټه اخلي.

د سوال او نورو له خوا ترسره شوې څېړنې

(Sewall et al., ۲۰۰۰ In Lavere, ۲۰۰۸) دا هم ښودلې چې د فلوریډا په ایالت کې، ډېرې ښوونکي په ټولګیو کې درسي کتابونه کاروي.

همدا ډول کیوز (keeves, ۱۹۹۵) د اکاډمیک پرمختګ د ارزونې په نړیواله ټولنه کې د خپلې څېړنې په برخه کې دې پایلې ته ورسېد چې مخ پر ودې هېوادونو کې، د درسي کتابونو کارول د زده کوونکو په زده کړه کې مثبته اغېزه لري. په داسې حال کې چې په پرمختللو هېوادونو کې د مطالعاتو پایلو دا نظر رد کړی، خو په پای کې یې دا سپارښتنه وکړه، چې د امکان تر حده دې ورته آسانتیاوې برابرې شي، ترڅو هر محصل د هري موضوع لپاره درسي کتاب ولري، سربېره پردې که د ښوونیزو سیستمونو موخه د لوستلو مهارتونو ته وده ورکول وي، نو بیا باید د ښوونځیو کتابتونونه سمبال شي او زده کوونکو ته د لوستلو ډېرې مواد چمتو کړي.

ځینو څېړنو د درسي کتابونو د محتوا د غني کولو یادونه هم کړې ده.

د درسي کتابونو د محتوا په اړه د ساینس د پرمختګ لپاره د امریکا د ټولنې د راپور پایلې (۲۰۰۱ کې ډینیلز او زیمیلمن، ۲۰۰۳) (American Association for the Advancement of Science, ۲۰۰۱ In Daniels &Zemelman, ۲۰۰۳) وایي چې نن ورځ په درسي کتابونو کې ډېرې موضوعات داسې مطرح شوي چې د هغې لپاره یې بشپړ توضیحات نه دي وړاندې کړي، یا په بل عبارت، په درسي کتابونو کې اصلي مفاهیم مفصل او ژور نه دي واضح شوي، تر څو زده کوونکي مفاهیم په سم ډول درک کړي.

ځینو څېړنو د درسي کتابونو د تمرینونو د ستونزو د کچې او د زده کوونکو د فکري ودې یا د فکر کولو د مهارتونو د پراختیا ترمنځ اړیکه څېړلې، د بېلګې په توګه: (Laver, ۲۰۰۸) په خپله څېړنه کې د ابتدایي او عالي لېسې په درسي کتابونو کې د تمرینونو د ستونزو کچه ډېره ټیټه ښودلې ده، چې په دې توګه د زده کوونکو د فکري مهارتونو وده زیانمنوي. همدا راز یې سپارښتنه وکړه چې د درسي کتاب تمرینونه باید په داسې ډول ډیزاین شي، تر څو د تفکر لوړې کچې ته پکې پاملرنه وشي او د تحلیل، ترکیب او ارزونې ځواک ته وده ورکړي.

د پورتنیو څېړنو پایلې ښیي که څه هم درسي کتابونه له زده کوونکو سره د بېلابېلو موضوعاتو په زده کړه کې مهم او اغېزمن رول لوبوي، خو د دغو کتابونو محتوا د خپل سطحي طبیعت له امله د زده کوونکو په فکري نوښت باندې کومه اغېزه نه شي کولای، نو د درسي کتابونو د کارولو ترڅنګ یوه د حل لاره دا ده چې ددې ترڅنګ له غیر درسي کتابونو څخه هم ګټه واخیستل شي، ترڅو په زده کوونکو کې د لازیاتي مطالعې لپاره مینه، لیوالتیا او انګیزه رامنځ ته کړي او د زده کړې سطحه یې په کې لوړه شي.

## په ښوونیز نظام کې د درسي کتابونو او غیر درسي کتابونو رول او ارزښت

فردوسي د درسونو د محتوا د عواملو په اړه د خپلې څېړنې په یوه برخه کې، چې د درسي مطالبو سره د زده کوونکو د نه پاملرنې لامل

کېږي، دې پايلې ته ورسېد، چې د زده کوونکو له نظره، د لوست منځپانګه انتزاعي ده. د لوست ارزيا، تطبيق او ګټه روښانه نه ده، د زده کوونکو له موخو او اړتياوو سره سم د لوست د مطالبو د همغږۍ نښتوالي د محتوا ډېروالي او په مختلفو لوستونو کې د ګڼ شمېر تاکل شويو مفاهيمو شتون د لوست مطالبو ته د زده کوونکو نه پاملرنه، چې دا په ښکاره ډول د کتابونو د محتوا په انتخاب او تنظيم کې د ستونزو شتون څرګندوي. د دې څېړنې موندنې را ښيي، چې درسي کتابونو ته د زده کوونکو د زياتې پاملرنې په موخه، اړينه ده، چې د درسي کتابونو اندازه او د هغو مفاهيم راکم کړي او د زده کوونکو د ورځنيو اړتياوو سره سم يې چمتو کړي. د هر ځانګړي درس ارزيا، ګټورتيا، تطبيق او د درسي کتابونو محتوا بايد په مناسب ډول تنظيم او وړاندې شي.
که د درسي کتابونو محتوا په مناسب ډول تنظيم شي او د ټاکل شويو مطالبو په هکله زده کوونکي تحليلي او انتقادي فکر ته اړباسي، نو دا به د هغوی متفاوت او نوښتګر فکر ته وده ورکړي. رضاپور (۱۳۷۸) د دريم ټولګي په درسي کتابونو کې همدې عواملو ته د پاملرنې د کچې د څېړلو په موخه يوه څېړنه ترسره کړه. د دې څېړنې کړنلاره د محتوا او ټولنې تحليل دی، چې د لومړۍ ابتدائي دورې په دريم ټولګي کې يې څلور درسي کتابونه، فارسي، تجربوي علوم، ديني زده کړې او ټولنيزې زده کړې شاملې دي. په دې څېړنه کې يې په يادو کتابونو کې د کورنۍ دندو او په درسي کتاب کې د پوښتنو محتوا تحليل وکړ. د څېړنې موندنې ښيي، چې د يادو درسي کتابونو د کورنۍ دندې په ډېزاين کې د نوښتګر او متفاوت فکر کولو عواملو ته لازمه پاملرنه نه ده شوې.
په ځينو څېړنو کې، په هغه لاملونو چې د زده کوونکو د غير درسي کتابونو د مطالعې په کچه اغېزه کوي تحقيق شوی. زال زاده په (۱۳۷۹) کال کې د خپلو څېړنو په يوه برخه کې په شيراز کې د ثانوي دورې د زده کوونکو د غير درسي زده کړو په اړه څېړنه وکړه. د څېړنې پايلې ښيي چې د وخت کموالی د زده کوونکو د غير درسي مطالعې اصلي لامل دی. له بلې خوا د ښوونکو د لارښوونې او د غير درسي مطالعې د کچې ترمنځ د پام وړ اړيکه شتون لري. يا په بل عبارت، د تدريس د طريقې په بدلون سره، ښوونکي کولای شي، تر څو د درسي کتابونو د محتوا د ښه پوهاوي په موخه د غير درسي کتابونو لپاره زده کوونکو ته لارښوونه وکړي.
اسماعيلي په (۱۳۸۳) کال کې د خپلو څېړنو په يوه برخه کې په اصفهان ولايت کې د محصلينو د غير درسي زده کړو اندازه څېړلې ده، موندنو ښودلې چې له رخصتيو پرته په هره شپه او ورځ کې د زده کوونکو لخوا د غير درسي مطالعې اوسط موده ۵۷ دقيقې ده. په حقيقت کې، ښځينه زده کوونکې ۶۰ دقيقې او نارينه زده کوونکې ۵۳ دقيقې د غير درسي زده کړو لپاره مصرفوي.
شعباني او فاضل (۱۳۸۱) په خپلو څېړنو کې د اصفهان ښار د يو منځني ښوونځي د زده کوونکو د غير درسي زده کړو د عواملو د اغېزې په پېژندلو کې دا په ډاګه کړه.
د دې څېړنې پايلې تائيدوي او دې پايلې ته

رسېدلي چې غير درسي کتابونو ته د زده کوونکو نه لاسرسی او د کتابونو لوړ قيمت د غير درسي کتابونو د مطالعې د ساعتونو له اندازې سره د پام وړ اړيکه لري.

له بلې خوا کله نا کله د زده کوونکو لپاره د درسي کتابونو محتوا د زده کړې په بهير کې ستونزې او خنډونه رامنځته کوي. يو له دغو ستونزو څخه د ښوونيزو مرستندويه کتابونو په نوم د کتابونو خپرېدل دي. د سلسبيلي د (۲۰۱۲) څېړنې پايلې ښيي چې د منځنيو ښوونځيو د نصاب په طرحه او تأليف کې د ښوونيزو مرستندويه کتابونو رول خورا کمزوری او کم رنګه دی او د زده کوونکو د تاريخي او جانبي معلوماتو په ګډون د عمومي سواد په پراخولو کې رول لري. نوموړی په ټينګار سره وايي چې د منځنيو ښوونځيو نصاب بايد غير درسي کتابونو ته د زده کړې زمينه برابره کړي، هغه دې پايلې ته ورسېد چې ډېری مرستندويه تعليمي کتابونه د زده کوونکو په زده کړه کې غير فعال رول لري او د کتاب ليکوال د هغه پر ځای فکر کوي. دا کتابونه د زده کوونکو د نوښتګر فکر په وده او پراختيا کې مرسته نه کوي.

هاشمي (۱۳۸۳ په استقامت او پاسيار کې ۱۳۸۸) د ښوونځي د پنځم ټولګي د ساينس او رياضي په درسي کتابونو کې د انتقادي فکر د کارولو کچه څېړلې ده.

د دې څېړنې موندنې ښيي چې په ساينسي درسي کتابونو کې فکر کولو ته د رياضي کتابونو په پرتله ډېره پاملرنه شوې، خو د زده کوونکو له خوا د انتقادي فکر کولو نشتوالي په درسي کتابونو او د تدريس په مېتودونو کې د ستونزو له امله ګڼلی دی.

پاسيار او استقامت په (۱۳۸۸) کال په خپله يوه څېړنه کې د محتوا تحليل مېتود په کارولو سره د عالي ليسې د چاپېريال پېژندنې درسي کتاب د دريم کال تفکر انتقادي پوښتنې څېړلې دي. د دې له پاره، دوی د (پيتر فاسيونه) مهارتونه چې په کې تفسير، تحليل، ارزونه، استنباط، توضيح، او د ځان تنظيمول شامل دي کارولي، ترڅو لړترلړه هغه مهارتونه چې په هره پوښتنه کې په پام کې نيول شوي وو وارزول شي. موندنو وښودله چې په کتاب کې د توضيح کولو مهارت په بشپړه توګه په پام کې نيول شوی او د استنباط، ارزونې، تفسير او تحليل مهارتونه يې د پوښتنو په ډيزاين کې د ډيزاينرانو له خوا تمه کېده. د فکر کولو وروستي او خورا مهم مهارت ته چې د ځان ارزونه ده، تر ټولو لږه پاملرنه شوې ده.

فاضلي او موسوي زادګان (۱۳۸۸) په اصفهان کې د معصومه ښوونځي د پنځم ټولګي زده کوونکو په اړه يوه تجربوي څېړنه چې هدف يې د بلوم د زده کړې [۶] ماډل پراساس په دوه ګونو، پېژندنې او احساساتي برخو کې د زده کوونکو په زده کړه کې د غير درسي سرچينو کارولو اغيزې څېړنه وه ترسره کړې ده. په دې مطالعه کې له نوموړو منابعو څخه ګټه اخيستنه او د پنځم ټولګي په تجربوي علومو کې په عصبي سيستم او حسي غړو باندې د زده کړې اغېز وڅېړل شو. چې د کنټرول ګروپ روزنه يوازې د درسي کتاب سره ترسره شوې او د تجربوي ګروپ روزنه د درسي کتاب سربېره د غير درسي سرچينو، د بېلګې په توګه غير درسي ويډيو او اړونده غير درسي کتاب

په کارولو سره ترسره شوې، د څېړنو موندنو ښودلې چې د غیر درسي سرچینو کارول چې د لوستل له موضوع سره د محتوا له مخې سمون لري د زده کوونکو د درک، فهم په ډګر باندې اغیزه کولای شي.

تر دې مهاله په یو شمېر هغو مطالبو باندې چې په ایران کې پرې څېړنې شوې دي، لکه د درسي او غیر درسي کتابونو په ارزښت او نور د زده کوونکو د فکر کولو په نوښت باندې مثبته اغیزه کولای شي.

خو پکارداده چې زده کوونکو ته لارښوونه وکړو، ترڅو د درسي کتابونو سربېره له غیر درسي کتابونو څخه هم ګټه واخلي، نو په دې اړوند پکار ده چې د درسي کتابونو د پوهې د پوره کولو لپاره هم کار وشي. حسیني په (۲۰۰۹) کال کې په خپله څېړنه کې د غیر درسي کتابونو موضوع څېړلې، ترڅو د تاریخ، ټولنیزو مطالعاتو، جغرافيې، تجربوي علومو او د فارسي درسي کتابونو لپاره د څېړنې پوښتنو ته ځواب پیدا کړي. د دې څېړنې وسیله چک لیستونه وو، د محتوا د تحلیل له طریقې څخه په ګټې اخیستلو سره یې په درسي کتابونو کې د څېړنې پوښتنې راویستې او د غیر درسي کتابونو له پوښتنو سره یې پرتله کړې. په پای کې یې د غیر درسي کتابونو لیست چې په کې یې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره لږ تر لږه ۵۰ سلنه کتابونه ترلاسه کړي دي وړاندې کړ او د هدف لرونکي درسي کتابونو څېړنیزو پوښتنو ته یې ځوابونه وویل.

**پایله**

که د ترسره شویو متونو څېړنې ته په غور کتنه وکړو، نو دا په ډاګه کوي چې درسي کتابونه د زده کوونکو په بېلابېلو مضامینو کې د زده کړې په برخه کې مهم او اغیزمن رول لوبوي، که په زده کړه کې ښوونکی د یوه واحد نصاب د درسي کتابونو پر ځای له شاګرد محورۍ څخه د غیر درسي کتابونو د کارولو له کرښلارې کار واخلي، نه یوازې دا چې د درسي کتابونو د مطالعې د انګېزې را پیدا کولو لامل ګرځي، بلکه په زده کوونکو کې به د لا زیاتو زده کړو لپاره لیوالتیا او هڅونه را وټوکوي؛ بل دا چې د درسي کتاب د متن په برخه کې شته ګڼو منابعو ته په مراجعه کولو سره به زده کوونکي وکولای شي د نورو کتابونو مأخذونو د محتویاتو د راټولولو او ارزولو وړتیا تر لاسه کړي او په راتلونکي کې به متفکر او یو ډول نوښتګر څېړونکي شي. له دې سربېره د ترسره شویو څېړنو د پایلو پر بنسټ، موږ ګورو چې په ډېرى مواردو کې، په یوه درسي کتاب باندې د ښوونکو تکیه او غیر درسي سرچینو ته د زده کوونکو نه لاس رسی یا نشتوالی اوسني ښوونیز سیستم یو اړخیز کړی دی، چې دا ډول یو اړخیز او غیر فعال ښوونیز سیستم په زده کونکو کې د مطالعې او زده کړې کومه هڅونه، نه ده رامنځته کړې.

**منابع**

۱. آهنگری، مریم. "داشته های ما و دیگران؛ میزگرد تطبیقی کتاب های آموزشی و مقایسه ی سایر کشورها با ایران". جوانه، شماره ۸، زمستان ۱۳۸۳. ص:۱۳- ۲۲.
۲. اسماعیلی، رضا ( ۱۳۸۳). "بررسی وضعیت کتاب، کتابخانه آموزشگاهی و سنجش علایق مطالعاتی شاگردان در استان اصفهان و ارائه راهکارهای مطلوب". فرهنگ اصفهان، شماره

۲۹- ۳۰. ۷۹- ۸۷).
۳. پاسیار، پریسا ؛ استقامت، نیره سادات (۱۳۸۸)." بررسی سئوالات تفکر نقادانه کتاب درسی زیست‌شناسی سال سوم دبیرستان با استفاده از مهارت‌های فاسیونه". در مهری پریرخ و شعله ارشطوپور، مجموعه مقالات کتابخانه‌های آموزشگاهی: پویاسازی نظام آموزشی و مشارکت در فرایند یاددهی- یادگیری. ۳- ٤ اردیبهشت. تهران: کتابدار. ۵۵۹- ۵۷۸.
٤. داورپناه، محمدرضا (۱۳۷۵). "بررسی نقش کتابخانه‌های مدارس ابتدایی در تقویت آموزش و ایجاد عادت مطالعه".پیام کتابخانه، ٦ (۲)، ١٤- ۲۰.
۵. رضاپور، یوسف (۱۳۷۸). "بررسی تحلیلی و تطبیقی کتاب‌های درسی پایه سوم دوره ابتدایی با عوامل خلاقیت". فصلنامه علمی- پژوهشی علوم انسانی دانشگاه الزهرا، ۹، ۷۱- ۹٤.
٦. زالزاده، ابراهیم (۱۳۷۹). "بررسی مطالعه غیردرسی و میزان استفاده شاگردان دبیرستان‌ها از کتابخانه‌های عمومی شیراز". کتابداری، دفتر ۳۵، ۳۱- ٤۷.
۷. سلسبیلی، نادر (۱۳۸۲). "ارزیابی کتاب‌های کمک آموزشی دوره متوسطه به منظور ارائه چارچوبی مطلوب برای طراحی و تدوین آنها". فصلنامه تعلیم و تربیت، ۱۹ (۳)، ۲۹- ٦٤.
۸. شعبانی، احمد و فاضل، مرتضی (۱۳۸۱). "مطالعات غیردرسی دوره متوسطه و شناسایی عوامل موثر بر آن از نظر شاگردان شهرستان شهرضا (استان اصفهان)". فصلنامه کتاب، ۱۳، (۲)، ٤۷- ۵۵.
۹. فاضلی، نگار و موسوی‌زدگان، صبرا (۱۳۸۸). "بررسی تأثیر استفاده از منابع کمک آموزشی بر یادگیری مبحث دستگاه عصبی و اندام های حسی از کتاب علوم تجربی پنجم دبستان بر اساس یادگیری بلوم". در مهری پریرخ و شعله ارشطوپور، مجموعه مقالات کتابخانه‌های آموزشگاهی: پویاسازی نظام آموزشی و مشارکت در فرایند یاددهی- یادگیری. ۳- ٤ اردیبهشت. تهران: کتابدار. ۳۰۱- ۳۲۳.
۱۰. Lance, K. C., Rodney, M. J. & Hamilton-Pennel, C. (۲۰۰۰). Measuring up tostandards: the impact of school library programs & information literacy in Pennsylvania schools. Pennsylvania: Pennsylvania Citizens for Better Libraries. Retrieved Apr. ۲۰۱۰ ,۱٦. from
۱۱. Lavere, D. B. (۲۰۰۸). The quality of pedagogical exercises in U.S. history textbooks. The Social Studies, ۸ -۳,(۱) ۹۹. Retrieved Apr. ۲۰۱۰ ,۱٦. from
۱۲. Consulting, Austin, Texas. Retrieved Aug. ۲۰۰۹ ,٤ from
۱۳. American Association for the Advancement of Science, ۲۰۰۱ In Daniels &Zemelman, ۲۰۰۳

معاون سرمؤلف ماستر سید حبیب الله ولی زاده

# چگونه می توان خلاقیت را در شاگردان به وجود آورد تا نسلی متفکر و خلاق پرورش یابد؟

قسمت دوم

**ده روش برای تدریس بهتر و مؤثر**

۱ - شاگردان خود را بیشتر بشناسند.

۲ - زمانی که معلم یک محیط امن برای فراگیران فراهم نماید فراگیران قادر به حل انجام مشکلات هستند.

۳ - معلمین بزرگ هم اشتیاق و هم هدف‌داری را به شاگردان انتقال می‌دهند.

۴ - زمانی که معلم مشخص کند شاگردان چه چیزهایی را بایستی یاد بگیرند آن ها بهتر فرا می گیرند.

۵ - مطالب را واضح و روشن بیان نمایید اگر چه نمی‌توانید آن ها را ساده کنید.

٦ - بدون فدا کردن اعتماد پذیری، آسیب پذیری را تمرین کنید.

۷ - از اعماق وجود تان آموزش دهید.

۸ - نکات مهم را تکرار کنید.

۹ - شما خود تان اطلاعات را ارایه نمی دهید.

۱۰ - معلمان خوب، سوالات خوب می پرسند.

**تفاوت در قوای جسمانی**

در یک صنف همواره افراد بلند قد و قوی بنیه احساس قدرت می‌کنند. آن‌ها همصنفی های کوتاه قد و ضعیف خود را تحقیر می‌کنند و به زور در هر کجا که دوست دارند می نشینند. به این ترتیب شاگردانی که جثه ضعیفی دارند و نمی توانند با آن ها مقابله کنند، به آخر صنف رانده می شوند. معلم در این مورد باید برخورد منطقی و درست داشته باشد. اول باید به همه اطمینان دهد که ردیف اول و آخر صنف در صورتی که آن‌ها شاگردانی خوبی باشند، تفاوتی باهم ندارند. و بعد باید آن ها را با ردیف کردن و نشان دادن تفاوت های قد شان برای جایگزین شدن در جای خود متقاعد کند. البته در صورتی که یک فرد بلند و یک فرد کوتاه قد دوست باشند، جدا کردن آن ها تأثیر عاطفی بدی، روی آن ها می گذارد.

**چپ دست بودن**

موضوعی که متأسفانه چندان اهمیت به آن داده نشده است، چپ دست بوده. تمام امکانات موجود در کشورها برای افراد راست دست تدارک دیده شده است. در یک صنف درسی، معلم باید تعداد چپ دست ها را شناسایی کرده و چوکی مناسب

برای این افراد سفارش دهد تا آن ها نیز با مشکل مواجه نشوند. اگر می خواهید مکاتب ما عملکرد رضایت بخش داشته و شاگردانی موفق داشته باشیم، باید به سلامت جسم و روان آن ها به طور هم زمان توجه کنیم.

بسیاری از مشکلات روانی، اجتماعی کودکان و نوجوانان تأثیر مستقیم بر یادگیری و جریان تحصیل آن ها دارد، مشکلاتی که از دوران کودکی در آنان درونی می‌شود و موجب عملکرد ضعیف آن ها در مکتب و به دنبال آن اعمال تنبیه ها برای بد رفتاری و شکست های تحصیلی می گردد. به عنوان یک مدیر یا معلم یا حتی پدر و مادر نیاز داریم که نقش صحت روانی در سلامت محیط مکت (به دلیل برقراری روابط اجتماعی عاطفی کودکان و نوجوانان) را مد نظر قرار دهیم تا شاهد پیشرفت های تحصیلی شاگردان در تمام مقاطع باشیم.

تحقیقات بی شماری نشان می دهند که از هر پنج شاگرد، یک تن دچار مشکلات مربوط به سلامت روانی است و متأسفانه به سبب عدم پیگیری، این گونه اختلالات رفتاری در مقاطع تحصیلی بالاتر و حتی تا هنگام ورود به جامعه، در شاگردان ماندگار است. هر چند کارشناسان و متخصصان علوم رفتاری تلاش می کنند که اصول بهداشت روانی را در مکاتب ابتدایی پایه ریزی و اصلاح نمایند، به نظر می رسد که رعایت این اصول و موازین نیاز به آموزش زود هنگام در خانواده دارد. خانواده اولین نهادی است که کودک در آن رشد و تعلیم می یابد و مورد حمایت مادی و معنوی پدر مادر و سایر اعضای خانواده قرار می گیرد.

طبیعی است هر چه فشار روانی و از هم گسیختگی اعضای خانواده بیشتر و عمیق تر باشد، نقش مربیان و معلمین دوره ابتدایی در ایجاد فضایی آرام و توأم با صمیمیت پر رنگ‌تر می شود. گذشته از آن مکت مکانی مقدس و استثنایی است که می تواند تأثیرش را در تمام مراحل رشد کودکان و نوجوانان برجای گذارد. شاگردان بهترین ساعات روز خود را در مکتب می گذرانند و البته معلمین و مربیان مکاتب نیز بهترین فرصت ها را برای آموزش مفاهیم مختلف (اعم از درسی، اخلاقی، اجتماعی و فرهنگی) در اختیار دارند. در این خصوص اگر هدف آموزش، رشد و ارتقای شایستگی ها و توانایی های کودکان و نوجوانان باشد، باید ایجاد محیط سالم و سرشار از ویژگی های مثبت انسانی، مثل شفقت، نوع دوستی، همکاری و.... را با آموزش علوم و دروس کلاسیک هم زمان سازند.

**ایجاد محیطی سالم و حمایتگر**

بدیهی است که به کارگیری اصول صحت روانی در زمان که کودکان و نوجوانان احساس ارزش و احترام می کنند. در حقیقت مهارت های تندرست بودن و پرهیز از آسیب های احتمالی در آن ها رشد می کند و می توانند به راحتی قوانین و مقررات مکتب را بپذیرند. مربیان و معلمان می توانند اولین گام مثبت را برای پدید آوردن و تثبیت خصوصیات و ویژگی های شایسته کودکان نوآموز بردارند. آن ها می توانند با ایجاد محیط عاری از مکتب کار آسانی نیست، نیاز به همکاری و مشارکت تمام اعضای مکتب دارد. علاوه برآن تا زمانی که مکتب در صدد تغییر و اصلاح ساختارهای اساسی

تعلیمی و تربیتی خود بر نیاید، پایه ریزی و تحکیم اصول صحت روانی در مکاتب غیر قابل حصول و دست نیافتنی است. برای اینکه به هدف‌های والای تعلیمی دست یابیم، همکاری و مشارکت والدین، معلمان و مدیریت مکتب امری ضروری است. در این صورت است که موفقیت شاگردان در امر تحصیل تضمین می شود. فشارهای روانی ناشی از رقابت های کودکان و هیجانات گوناگون، نوآموزان را در جهت پیشرفت تحصیلی تحت کنترول درآورند و مانع از رشد احساسات منفی در آن ها شوند. رعایت اصول صحت روانی در صنف درسی به ویژه در سال های نخستین تعلیم، به رشد و توسعه شیوه های تربیتی مناسب کمک می کند.

**استفاده از روش گروهی در روش های فعال تدریس**

براساس تحلیلی که از یک تحقیق به عمل آمده یک معلم معمولی در یک صنف که (۳۰) تن شاگرد دارد به طور متوسط برای هر شاگرد (۹۰) خط صحبت می کند و یا به تعبیر دیگر در یک صنف که (۳۰) تن شاگرد دارد معلم هشت برابر شاگرد متوسط فقط حرف می زند. اولین قدم در راه به حرف کشیدن شاگردان در صنف ایجاد توازن و هماهنگی در تعلیم صنف و موقعیت های تعلیمی و تربیتی است.

در مطالعه ای که بر روی (۱۰۰۰) تن شاگرد (۱۳ – ۱۷) ساله انجام گرفته است شوخ طبعی - جذاب کردن صنف و تسلط بر موضوع درسی مهم ترین ویژگی هایی بودند که شاگردان برای معلمان خود فهرست کردند. ویژگی هایی که شاگردان بیش از همه به بدترین معلمان نسبت داده بودند، عبارتند از: داشتن یک صنف خسته کننده – عدم توضیح روشن مطالب و استثنا قائل شدند.

**روش‌های آموزش انشاء**

مهم ترین روش های آموزش انشاء عبارتند از:

**الف) روش سنتی**: در این روش معلم یک یا چند موضوع را انتخاب کرده و به شاگردان می گوید در مورد یکی از آن ها مطالبی بنویسند. پس از آن چند شاگرد، انشای خود را خوانده و معلم به آن ها نمره می دهد. این روش بر محصول نگارش تأکید دارد و همچنین از روش های قدیمی بوده که موجب خلاقیت در شاگرد نمی شود.

**ب) روش الگوهای نوشتاری**: در این روش، معلم با ارایه انواع نوشته از شاگردان می خواهد به تکمیل، ساده کردن و باز نویسی آن نوشته بپردازد. یعنی شاگردان پس از مواجه شدن با متون از قبل نوشته شده با تقلید از آن ها به یادگیری نوشتن می پردازند. این روش نیز بیشتر به محصول نوشتار توجه دارد.

**ج) روش مراحل نگارش**: در این روش، معلمان باید شاگردان را با جریان های نوشتاری آشنا کنند. جریان نوشتار شامل سه مرحله است:

۱ - مرحله پیش از نگارش؛

۲ - مرحله نگارش؛

۳ - مرحله ویرایش و باز بینی.

در مرحله اول شاگردان باید با مطالعه و مراجعه به اطلاعات و تجربیات خود آنچه را می خواهند روی کاغذ بیاورند. در مرحله دوم معلم، با انتخاب یک یا چند موضوع

ضمـن آمـوزش نـگارش بـه شـاگردان بـر چگونگـی نوشـتن آن هـا نظـارت مـی کنـد و در حیـن نوشـتن، ایرادهـای آن هـا را گـوش زد مـی کنـد. در حقیقـت در ایـن مرحلـه تعامـل معلـم و شـاگرد در جریـان تدریـس و یادگیـری تحقـق مـی یابـد. در مرحلـه سـوم کـه هـمان مرحلـه ویرایـش و بـاز بینـی اسـت، شـاگرد بـه کمـک معلـم بـه بـاز بینـی و ویرایـش انشـاء هـای خـود مـی پـردازد کـه در ضمـن اصـلاح انشـاء مشـکلات نگارشـی شـاگردان هـم آشـکار مـی شـود.

**د) روش تلفیـق جملـه هـا**: در ایـن روش بـه جملـه هـای زبـان نوشـتاری اهمیـت خاصـی داده مـی شـود و اصـل از سـاده بـه مشـکل نیـز رعایـت مـی شـود.

**و) روش رابطـه هـا**: شـاگرد بایـد احسـاس کنـد کـه بـه جـز معلـم، افـراد دیگـر نیـز روی نوشـته او نظـر مـی دهنـد، بدیـن ترتیـب بیـن نویسـنده، خواننـده و موضـوع رابطـه بوجـود مـی آیـد و طبـق ایـن روش، آمـوزش درس انشـاء مسـتلزم برقـراری ارتبـاط صحیـح میـان ایـن سـه اسـت.

**هــ) روش نظریـه جهانـی**: بـه ایـن بنیـاد اسـتوار اسـت کـه اگـر کسـی بخواهـد در بـاره چیـزی مطلبـی بنویسـد بایـد در بـاره آن اطلاعـات کافـی و دیـدگاه روشـنی داشـته باشـد. یعنـی نوشـتن صحیـح براسـاس نظـر نویسـنده در مـورد جهـان شـکل مـی پذیـرد و بـا اطلاعـات صرف متفـاوت اسـت.

**مشکلات درس انشاء در صنف پنجم ابتدایی**

**۱ - نداشـتن تجـارب کافـی**: از آنجایـی کـه بیـن نوشـتن و اطلاعـات عمومـی شـاگرد رابطـه مسـتقیم وجـود دارد بنابـر ایـن نوشـتن در مرحلـه اول بـه تجربیـات درون و کافـی نیـاز دارد و شـاگرد بایـد در بـاره آنچـه کـه مـی نویسـد تجربـه کافـی داشـته باشـد.

**۲ - نداشـتن انگیـزه کافـی**: گاهـی شـاگردان بـه دلیـل وجـود مشـکلات عدیـده خانوادهگـی، اجتماعـی و بومـی، انگیـزه کافـی بـرای نوشـتن یـک موضـوع را ندارنـد؛

**۳ - نداشـتن مهـارت هـای کافـی نگارشـی**: ایـن گونـه شـاگردان در بیـان افـکار خـود بـا نظـم صحیـح دسـتوری و نحـوی مشـکل دارنـد و نوشـته هـای آن هـا شـامل خطاهـای دسـتوری و نحـوی بـی شـمار اسـت؛

**۴ - نداشـتن واژه هـای کافـی بـرای بیـان مقصود:** ایـن قبیـل شـاگردان بـه علـت نداشـتن تجربـه هـای گوناگـون در واژه هـای زبـان گفتـاری و نوشـتاری ضعیـف هسـتند عـده دیگـر بـه علـت نقـص در زبـان گفتـاری بـا ایـن مشـکل روبـرو مـی باشـند؛

**۵ - دو زبانگـی و تداخـل زبانـی**: دو زبانگـی بـه معنـای دانسـتن و یـا بـه کار بسـتن دو زبـان متفـاوت اسـت.

در دو زبانگـی بایـد گفـت اگـر کودکـی هـر دو زبـان را بـا هـم یـاد بگیـرد و در هـر دو زبـان بـه مـوازات هـم از مراحـل فـوق بگـذرد مسـاله ای ایجـاد نمـی شـود. در چنیـن وضعیتـی هـر یـک از زبـان هـا بـه غنـی سـازی زبـان دیگـر کمـک مـی کنـد و تجـارب بدسـت آمـده در یـک زبـان بـه زبـان دیگـر هـم منتقـل مـی شـود. ایـن چنیـن شـخص مـی توانـد دو دنیـای متفـاوت را ادراک کنـد. در محیـط کـودکان بـا زبانـی محلـی بـا دیگـران ارتبـاط برقـرار مـی کننـد و ایـن سـبب مـی شـود کـه کـودک بـه حـد کافـی در یادگیـری زبـان در جنبـه هـای شـنیداری و گفتـاری بـا زبـان مکتبـی خـود تمریـن نکـرده و ناگهـان بـا زبـان دیگـر کـه هـمان زبـان مکتبـی اسـت برخـورد مـی کنـد در حالـی کـه

روال طبیعی باید به این صورت باشد که کودک باید خواندن و نوشتن را به دنبال طبیعی شنیدن و حرف زدن یاد بگیرد تا سیر تکاملی زبان در چارچوب طبیعی خود به پایان برسد که چنین وضعیتی در مناطق دو زبانه صدق نمی کند.

**قدرت سازگاری با تغییرات**

انجام کارهای روزانه به صورت عادت یکی از نکات مهم آموزش کودکان است. فراگیران با یک سلسله مفاهیم و اصول اولیه ساده در مقطع کودکستان و سال اول ابتدایی به صورت انجام عادات روزانه مثل: جمع کردن وسایل شخصی در جعبه مخصوص، مسواک زدن روزانه و از این قبیل آشنا می شوند. نکته حایز اهمیت این است که کودک چگونه با تغییرات عادتی خود کنار می آید. بعضی از کودکان نسبت به کم ترین تغییری واکنش منفی مثل: ترس، خشم، اضطراب و... از خود نشان می دهند، به خصوص اگر در گذشته هم شاهد تجارب استرس آوری در این زمینه بوده باشند. این اطفال برای این که بتوانند خودشان را با تغییرات مختلف در محیط مکتب سازگار و هماهنگ کنند به کمک معلم یا مربی خود احتیاج دارند. برای نمونه، ممکن است شاگردی نسبت به جابه‌جایی در صنف واکنش منفی خشم و پرخاشگری از خود نشان دهد یا گوشه‌گیر و منزوی شود. در اینصورت معلم می‌تواند با درک احساسات کودک و آرام ساختن او، سازگاری و انطباق با شرایط جدید را برای او راحت‌تر کند، زیرا اطفال به این ویژگی مهم و ارزشمند (سازگاری با تغییرات) که در دوران خردسالی در آن ها شکل می‌گیرد و در تمام عمر مورد استفاده آنان واقع می‌شود، احتیاج دارند. ممکن است این تغییرات در محیط خانه روی هدف مثل: تولد نوزاد جدید، بد خوابی، جابه‌جایی منزل و ... در این صورت بهتر است آموزگاران و مربیان، توجه والدین را به این موضوع جلب کنند و از آن ها بخواهند در صورت ایجاد چنین تغییر و تحولاتی در خانه، آن ها را نیز در جریان بگذارند. در بسیاری از موارد والدین و مربیان می توانند تأثیرات منفی این گونه فشارهای روانی و اضطراب ها را از راه های زیر به حداقل برسانند و به اطفال کمک کنند تا حس ثبات و کنترول بیشتری بر شرایط محیطی شان داشته باشند.

الف) آگاه کردن اطفال نسبت به موقعیت جدید.

ب) تمرکز بر صلاحیت ها و شایستگی های کودک.

پ) تکیه بر شرایط و موضوعاتی که تغییر نیافته اند.

**بالا بردن قدرت درک و تشخیص**

کودکان و نوجوانان نیاز به تعلیم قدرت درک و تشخیص دارند. آن ها به تدریج با ارزش ها و معیارهای گوناگون جامعه آشنا می شوند. در این خصوص معلمان و مربیان مکتب می توانند با تشخیص پیشرفت های تحصیلی فراگیران، آن ها را نسبت به عملکرد شان در مکتب آگاه سازند. هم چنین می توانند با آموزش رفتارهای پسندیده در محیط های آموزشی، آن ها را ترغیب به رقابت های سالم، خویشتن داری، کنترول نفس، نوع دوستی وظیفه شناسی کنند. برای مثال: اگر رفتار اشتباه و نابهنجاری از کودکی سر زد، معلم می تواند با صحبت در باره عمل

اشتباه او (و نه شخص خود کودک) رفتار صحیح را به او متذکر شود. گاهی اطفال اساساً رفتار درست و مناسب را نمی دانند و ناخواسته کاری می کنند که مورد سرزنش و نکوهش قرار می گیرند. در چنین شرایطی بهتر است ابتداء معلم به صحبت های کودک و علت رفتار او خوب گوش کند و سپس سعی کند با بالا بردن قدرت فهم و تشخیص شاگرد، رفتار صحیح را به او بیاموزد. گاهی پیش می آید که شاگردان را به علل مختلف نزد مدیر مکتب می فرستند. در این گونه موارد، خوب است مدیر مکتب سعی کند با تکیه بر نکات و ویژه‌گی‌های مثبت شاگرد صحبت را آغاز کند و کم کم به رفع مشکلات آن ها بپردازد. انجام این کار باعث آرام شدن شاگردان و به تأخیر افتادن عکس‌العمل های هیجانی آن ها می شود. کمک کردن به کودکان و نوجوانان برای شناخت ویژه‌گی ها و صفات مثبت و ارزشمند انسانی، آنان را به سوی رفتارهای پسندیده و مقبول اجتماع سوق می دهد. پس بهتر است همواره از روان شناسان و مشاوران تحصیلی خواست تا فعالیت هایی برای شاگردان طراحی و پیشنهاد کنند که شناخت و درک آن ها را از موقعیت های مختلف بالا ببرد و رفتارهای مثبت و سازنده را در آنان پایدار و تثبیت کنند.

**اهمیت و ضرورت**

از آنجا که سن نوجوانی مخصوصاً دوره راهنمایی تحصیلی یکی از بحرانی ترین مرحله از زندگی هر نوجوان است. تا خصوصیات فردی در نوجوان را در این دوره از زندگی او به دقت شناسایی و در مورد آن تحقیق شود تا طرز برخورد و روبرو شدن با نوجوانان که در این دوره بسیار حساس زندگی خود را می گذرانند هوشیارانه و با اطلاع کافی عمل نماییم. از طرفی وجود اضطراب در نوجوانان اگر از حد متوسط آن بالاتر رود باعث می شود که روی یادگیری و پیشرفت تحصیلی آن ها تأثیر گذارد و باعث به وجود آمدن پیامدهای ناگوار و گاهی غیر قابل جبران می گردد. این پیامدها ممکن است به انواع گوناگون؛ مانند: خلق و خوی نامناسب- بدبینی- زود رنجی- نارضایتی- احساس گناه- نفرت از خود- اتهام به خود- گوشه گیری از اجتماع- بی تصمیمی و مشکلات در تصمیم گیری- اختلال در خواب و خوراک- بی اشتهای و اشتغالات ذهنی بروز کند. این موارد که ذکر گردید می تواند موانعی در سر راه پیشرفت نوجوان باشد.

لذا شناخت انواع اضطراب ها و نگرانی ها، انسان را به دنبال راه های مقابله با آن راهنمایی خواهد کرد.

در این مقاله به دنبال آن هستیم تا عواملی را که باعث بروز خلاقیت، مهارت و تفکر ذهنی در شاگردان می شود دریافت نماییم و از آن جا که شاگردان تیزهوش و با ستعداد از بسیاری جنبه های ذهنی و فکر با هم سالان عادی خود شان تمایزاتی دارند. در این زمینه تفاوت های در گروه از شاگردان را مورد بررسی قرار دهیم. اضطراب اثرات نامطلوب زیادی بر پیشرفت تحصیلی، سلامت روانی و کارکرد شاگردان دارد، شاگرد در حالت اضطراب اعتماد به نفس و آرامش خود را از دست می دهد. شاگردان بی خیال و خونسرد می توانند مقدار زیادی فشار عصبی را قبل از این که به حد

اضطراب برسند تحمل کنند. اما برخی که احتمالاً حساس تر بوده و دارای قوه تخیل قوی تر هستند، بیشتر از خود واکنش نشان می دهند، سریع تر مضطرب و پریشان شده و میزان اضطراب آن ها نیز بیشتر خواهد شد. یکی از اهمیت های این مقاله در مورد اثری است که چگونه می توان خلاقیت را در شاگردان به وجود آورد تا نسلی متفکر و خلاق پرورش یابد؟ که می تواند بر روی یادگیری و نهایتاً پیشرفت تحصیلی تأثیر مثبت داشته باشد.

از طرف دیگر اولیا و مربیان می خواهند بدانند که چه عواملی کنجکاوی شاگردان را برای یادگیری بر می انگیزاند. و چه مسائلی بر سر راه پیشرفت آن ها مانع ایجاد می کند. زیرا آن ها نه تنها برای علاقه انگیزش و آرامش روانی در مکتب و مدرسه ارزش قائل اند؛ بلکه اثرات مثبتی که این عوامل در دراز مدت بر عزت نفس شاگردان می گذارد نیز واقف هستند. (سکینر و بلمونت ۱۹۹۳) با توجه به اینکه کودکان تیزهوش به عنوان منابع انسانی هر کشوری محسوب می شوند و می دانیم که منابع انسانی میهن ما به هیچ وجه محدودتر از منابع غنی طبیعی آن نیست و در عین حال به دلیل محدودیت این نعمت ها باید به خوبی از آن ها طبق برنامه ریزی های علمی بهره گیری شود. باید نهایت مراقبت به عمل آید تا استعدادها شگوفا و خلاقیت این نوجوانان به ثمر رسد و یافته های حاصل از این مقاله بتواند گامی در جهت رشد و تعلیم این سرمایه ارزشمند حیاتی باشد.

یکی از عواملی که در ایجاد ارتباط نقش تعیین کننده دارد مهارت نوشتن انشاء و نقش آن در ایجاد خلاقیت فکری در فرد مخصوصاً در دوره متوسطه می‌باشد.

کسانی که از توانایی نوشتن خوبی برخوردار هستند، در زمینه خلاقیت نیز می توانند موفق باشند چرا که یک نویسنده خوب و یک نوشته خوب باید به همه جوانب موضوع پرداخته باشد.

در مکاتب ابتدایی شاگردان نمی توانند به نوشته خوب بپردازند. از عواملی که باعث ایجاد این مشکل شده می توان به پائین بودن فرهنگ عمومی مطالعه، توجیه نبودن مسئولین، معلم، خانواده در خصوص ارزش و اهمیت نوشتن و نقش آن در ایجاد خلاقیت فکری شاگرد دانست.

از آنجایی که کتاب لسان‌های دری و پشتو در بالا بردن، ایجاد خلاقیت و توانایی نوشتن، نقش تعیین کننده دارند نوشتن مهارتی است که فرد به نوشتن کلمات و جملات پرداخته، تا احساسات و نگرش خود را بیان کند. از جانب دیگر بیان افکار، اندیشه، احساسات و بروز خلاقیت در شاگردان، سبب شده تا شاگرد آن ها بتوانند چه در مقاطع تحصیلی پائین و چه در مقاطع تحصیلی بالا به خلق افکار و اندیشه های خود به صورت نوشته بپردازند.

از آن جایی که یکی از اهداف تعلیم و تربیه دستیابی به چهار رکن اساسی؛ خوب گوش کردن، خوب نگاه کردن، خوب سخن گفتن و خوب نوشتن است.

این چهار رکن در درس انشاء به تمامی به کار گرفته می شود.

بنابراین درس انشاء دریچه ای است به روی خوب اندیشیدن، خوب تحلیل کردن و خوب تعمق کردن.

سر مؤلف مرستيال محمد عزيز حسين خېل

# د ښوونکي لارښود کتاب ارزښت او ډولونه

